امر عمر بن الخطاب ابی بن کعب و تمیما الداری ان یقوما للناس
باحدی عشرة رکعة (الحدیث)

فیصله
اکابر علماء احناف

شل 20 رکعاته تراویح سنت نه دی
اته 8 رکعا ته تراویح سنت دی

مؤلف
ابو سهیل افغانی حفظه الله

ناشر مکتبه السنته

امر عمر بن الخطاب ابی ابن کعب و تمیما الداری ان یقوما للناس باحدی عشرۃ رکعۃ (الحدیث)

فیصله اکابر علماء احناف

شل(20) رکعاته تراویح سنّت نه دی

اته(8) رکعاته تراویح سنّت دی

مؤلف: ابوسهیل افغانی حفظه الله

ناشر مکتبة السنة

کتاب..........فیصلہ اکابر علماء احناف

مؤلف...............ابوسہیل افغانی حفظہ اللہ

تعداد....................1100

کمپوزنگ..........فضل اللہ محمدی حفظہ اللہ

د میلاویدو پتہ..............نوروز کتب خانہ صوابی

موبائل نمبر .0300/5682868 0313/8399494

ناشر.................. مکتبۃ السنّۃ

بسم الله الرحمٰن الرحیم

الحمد للّٰه رب العالمین والصلوٰة والسلام علی سیدالانبیاء والمرسلین وعلی اله واصحابه اجمعین امابعد

محترمو مسلمانانوروڼولکه څنګه چی عوامواوخواصوټولو ته دامسٔله معلومه ده چه درمضان المبارک په میاشت کښی مسلمانان درمضان دروژی نیولو سره سره د شپی عبادت کښی قیام رمضان هم ادا کوی. چه قیام اللیل هم ورته وائ او په تراویح سره عام شهرت لری، د احادیثو په کتابونو کښی د دی باره کښی محدثینو ابواب ذکر کړی دی چه د هغی بعضی عنوانات تاسو ته ذکر کوم د نمونی په طور:

باب قیام النبی ﷺ فی رمضان وغیره

صحیح البخاری154/1

باب فضل من قام رمضان صحیح البخاری 269/1

باب الترغیب فی قیام رمضان وهو التراویح.

النواوی علی صحیح المسلم 259/1

باب قیام شهر رمضان سنن النسائی238/1

باب ما جاء فی قیام شهر رمضان سنن ابن ماجه 95/1

باب ما جاء فی قیام شهر رمضان الجامع للترمذی99/1

باب قیام شهر رمضان سنن ابی داؤد201/1

باب ماجاء فی قیام رمضان موطاء امام مالک

باب قیام شهر رمضان وما فیه من الفضل

موطاء امام محمد 138

باب قیام شهر رمضان مشکوٰۃ114/1

د محدثینو د دی مذکور ابوابو او په دی کښې چه کوم احادیث ذکر شوی د دینه صفا معلومیږی چه د دی نه مراد هغه مونځ دے چه مونږ او تاسو کښې په تراویح مشهور دے او نور علماء تری هم صلوٰۃ تراویح سره تعبیر کوی او صلوٰۃ تراویح ورته په دی وجه وائی چه د هر څلور رکعاتو نه پس په کښې (ترویحه) یعنی دمه راغلی ده نو د دی وجی نه ورته صلوٰۃ تراویح وائی. اوس راځو دی خبری له چه دا څور کعاته دی نو دی باره کښې بعضی خلک چه مقلدین احناف ځانته وائی دعوه کوی چه تراویح سنت شل (20) رکعاته دی او ښوک چه شل رکعاته نه کوی هغه د سنت مخالفت کوی او په قسما قسم نومونو یی بدناموی، دویم

هغه خلک دی چه د احادیثو صحیحو په رنړا کښې عمل کوی او
وائی چه سنت تراویح اتهٔ (8) رکعاته دی. او دری رکعاته ورسره
وتر دی او دا عمل دنبی ﷺ او صحابه کرامو دے او په صحیح
احادیثو ثابت دے او د شلو رکعاتو په باره کښې صحیح حدیث
نشته دے. او عمرؓ نه هم په صحیح حدیث شل رکعاته ثابت نه دی
بلکه د عمرؓ نه هم یوولس(11)رکعاته سره د وترو ثابت دی، چه
ابی بن کعبؓ او تمیم الداریؓ ته یی حکم کړے وو او د دی تائد
ائمه کرام محدثین عظام او محققین علماء کرام هم کوی او دا
قول په دلائلو هم مضبوط دے .هم دا وجه ده چه د احنافو اکابر
علماء هم دا وائی چه تراویح اتهٔ (8) رکعاته سنت دی او د شلو
رکعاتو د سنتیت نه یی انکار کړے. اوس به مونږ تاسو ته د اکابر
علماء احنافو اقوال پیش کړو چه اتهٔ(8) رکعاته تراویح نه سنت
وائی. او د شلو (20) رکعاتو د سنّتیت نه انکار کوی،
وبالله عزوجل التوفیق ستاسوورور(ابوسهیل افغانی)

(داتاسو او دا علماء احناف)

﴿شل(20) رکعاته تراویح سنت نه دی﴾
(اکابر علماء احناف)

(1) (امام محمدؒ)

امام محمدؒ دتراویح په باره کښې دخپل کتاب موطاء کښې باب ذکر کړے دے په دی عنوان باب قیام شهر رمضان اومولانه عبدالحی لکهنوی حنفیؒ پری حاشیه کښې لیکلی دی (ویسمی التراویح)یعنی تراویح ورته هم ویلے شی دتراویح د تعداد باره کښې امام محمدؒ حدیث دعائشیؓ ذکر کړے دے چه
(ماکان رسول الله ﷺ یزید فی رمضان ولافی غیره علی احدیٰ عشرة رکعة)
یعنی رسول الله ﷺ په رمضان کښې او په غیر د رمضان نه د یوولسو رکعاتو نه سیوا نه دی کړی. او بیا د دی نه روسته وائی (وبهذا کله نأخذ) یعنی په دی ټولو احادیثو زمونږ عمل دے او په دغه کښې د شلو رکعاتو ذکر نه دے کړے نو د دینه دا خبره صفا معلومه شوه چه امام محمدؒ عمل په یوولسو رکعاتو تراویح وو سره د وترو او دی ته سنت نبوی هم وائی
او د امام ابو حنیفهؒ هم دا مذهب وو ځکه چه امام ابوحنیفهؒ نه .

څوک په صحیح سند شل رکعاته تراویح نشی ثابیتولے او که ثابت وے نو د امام ابو حنیفهؒ خاص شاګرد امام محمدؒ به ثابت کړی وے. (موطاء امام محمد 139/138)

(2)﴿امام ابن همام حنفیؒ﴾

(2) امام ابن همام حنفیؒ

(ان قیام رمضان سنة احدی عشرة رکعة بالوتر فی جماعة فعله علیه السلام) فتح القدیر 344/1 طبع مصر

قیام رمضان (تراویح) سنت یوولس رکعاته دی سره د وترو نبی ﷺ په جمع کړی دی.

(ان الثمانیة منها سنة مؤکدة وما بقی فمستحب) حاشیه فیض الباری 420/2

اتۀ رکعاته سنت مؤکده دی او باقی مستحب دی

وقال فی فتح القدیر بعد ذکر هٰذا الحدیث: ضعیف بابی شیبة ابراهیم بن عثمان جدالامام ابی بکربن ابی شیبة متفق علی ضعفه مع مخالفته للصحیح (تحفة الاحوذی 615/3)

دشلو رکعتو تراویحو حدیث ضعیف دے ابوشیبه ابراهیم بن عثمان

ضعیف راوی دے پکښې او په ضعف ئې اتفاق دے او د صحیح
حدیث نه هم خلاف دے

(3)﴿ابن نجیم حنفیؒ﴾

ابن نجیم حنفیؒ وائی:(وقد ثبت ان ذالک کان احدی عشرة
بالوتر کماثبت فی الصحیحین من حدیث عائشةؓ فاذن یکون
المسنون علی اصول مشائخنا ثمانیة منها والمستحب اثنتا عشرة
)بحرالرائق72/2

تحقیق سره ثابت ده چه دا یولس (11) رکعاته دی دوتروسره لکه
چه ثابت دی په صحیحینو کښې دحدیث دعائشیؓ پس پدی سره
زمونږ دمشائخو په اصولو مسنون اته(8) رکعته دی. د دینه
او دولس(12) رکعته مستحب (یعنی نفل دی)

(4)﴿ملا علی قاری حنفیؒ﴾

ملاعلی قاری حنفیؒ :وائی
(فتحصل من هذا کله ان قیام رمضان سنة احدی عشرة بالوتر فی
جماعة فعله علیه الصلوٰة والسلام)مرقات382/3

ددی تهول بحث حاصل دادے چه قیام رمضان (تراویح) سنت یوولس(11) رکعاته دی سره دوترو په جماعت نبی ﷺ کړی دی.

(5)﴿احمد طحطاوی حنفیؒ﴾

طحطاوی حنفیؒ وائی: (لان النبی ﷺ لم یصلهاعشرین بل ثمانی)حاشیة الطحطاوی علی الدر المختار 295/1

ځکه چه بیشکه نبی علیه الصلوٰة والسلام شل (20) رکعاته ندی کړی بلکه اتهٔ (8) رکعاته (تراویح)ئی کړیدی

(6)﴿علامه شامی حنفیؒ﴾

علامه شامی حنفیؒ لیکی: ان مقتضی الدلیل کون المسنون منها ثمانیة والباقی مستحبا(شامی295/1)

بی شکه د دلیل په تقاضه سنت (تراویح)اته (8)رکعاته دی اوباقی نفل دی.

(7)﴿سید احمدحموی حنفیؒ﴾

سید احمد حموی حنفیؒ لیکی:(ان النبی ﷺلم یصلها عشرین

بل ثمانیا)حاشیة الاشباه (صفحه9)
بیشکه نبی ﷺتراویح شل رکعاته ندی کړی بلکه اته (8)رکعاته ئی کړیدی.

(8)﴿ابوالسعود حنفیؒ﴾

ابوالسعود حنفیؒ لیکی:لان النبی ﷺ لم یصلها عشرین بل ثمانیا.(شرح کنز 265)
ځکه چه نبی ﷺ شل(20) رکعاته تراویح ندی کړی بلکه اته(8) رکعاته ئی کړیدی.

(9)﴿ابوالحسن شرنبلالی حنفی﴾

ابوالحسن شرنبلالی حنفیؒ لیکی:(ثبت انه ﷺصلی بالجماعة احدی عشرة رکعة بالوتر)مراقی الفلاح صفحه 247
ثابت ده چه نبی علیه الصلوٰة والسلام دجمی سره یوولس(11) رکعاته (تراویح) کړی سره دوترو.
فتاوٰی شرنبلالی کښې وائی:
(الذی فعله علیه السلام بالجماعة احدی عشرة رکعة بالوتر وماروی انه کان یصلی عشرین سوی الوتر فضعیف)
هغه چه نبی علیه السلام په جماعت سره کړی دی یوولس

(11) رکعاته دی سره دوترو اوهغه روایت چه نبی علیه الصلوٰة والسلام به شل رکعاته (تراویح) کولی سیوا دوترو نه نو دغه روایت ضعیف دے (صحیح نه دے)

(10) ﴿شیخ عبالحق دهلوی حنفیؒ﴾

شیخ عبدالحق دهلوی حنفیؒ لیکی:(والصحیح)ماروته عائشة انه ﷺ صلی احدی عشرة رکعة کماهوعادته فی قیام اللیل (رکعات تراویح صفحه15)(ما ثبت با لسنة صفحه 122)
صحیح هغه دے چه روایت ئ عائشیؓ کړے دے چه نبی علیه الصلوٰة والسلام یوولس(11)رکعاته (تراویح) کړی دی لکه څنګه چه عادت وو په قیام اللیل یعنی تهجدو کښی

(11) ﴿مولاناعبدالحیّ لکهنوی حنفیؒ﴾

مولانا عبدالحیّ لکهنوی حنفیؒ لیکی :(واماالعددفروی ابن حبان وغیره انه صلی بهم فی تلک اللیالی ثمان رکعات وثلاث رکعات وترا)عمدة الرعایه 207/1
هرچه عدد دتراویح دے نوروایت دابن حبان وغیره کښی راغلی چه نبی ﷺ امامتئ سره صحابه کرامو له مونځ(تراویح) کړے وو

په دغه شپو کښې اته رکعاته او دری رکعاته وتر.

(12)﴿مولانا احمدعلی سهارنپوری حنفیؒ﴾

مولانا احمد علی سهارنپوری حنفیؒ لیکی:(ان قیام رمضان سنة احدی عشرة رکعة بالوترفی جماعة فعله علیه السلام)

حاشیه بخاری 145/1

یقیناقیام رمضان (تراویح)سنت یوولس(11) رکعاته دی سره دوترو چه په جماعت سره نبی ﷺ ادا کړی دی.

(13)﴿مولوی محمد احسن نانوتوی دیوبندی حنفیؒ﴾

مولوی محمد احسن نانوتوی دیوبندی حنفی لیکلی دی:

(لان النبی ﷺ لم یصلها عشرین بل ثمانیا..حاشیه کنزالدقائق صفحه 36)

څکه چه نبی ﷺ شل (20) رکعاته نه دی کړی بلکه اته(8) رکعاته ئې کړیدی.

(14)﴿محدث علامه زیلعی حنفیؒ﴾

علامه زیلعیؒ دشلو(20)رکعتو دتراویحوحدیث باره کښی لیکلی دی.

وهو معلول بابن ابی شیبه ابراهیم بن عثمان جدالامام أبی بکربن ابی شیبة وهومتفق علی ضعفه. ولیّنه ابن عدی فی الکامل ثم انه مخالف للحدیث الصحیح عن ابی سلمة بن عبدالرحمٰن أنه سأل عائشةؓ کیف کانت صلاة رسول الله ﷺ فی رمضان قالت : ماکان یزید فی رمضان, ولا فی غیره علی احدی عشرة رکعة (نصب الرایه 153/2)(تحفة لاحوذی 614/3)طبع بیروت

دعلامه حافظ زیلعی حنفیؒ دخبری مقصد دادے چه دشلور کعتوتراویحوحدیث ضعیف دے اوعلت دضعف یی دادے چه دیکښی ضعیف راوی دے چه هغه ابن ابی شیبه ابراهیم بن عثمان دے چه نیکه دابوبکر بن ابی شیبه دے چه دده په ضعف دمحدثینو اتفاق دے ابن عدی هم په الکامل کښی ضعیف گرزولے دے .اوسره دضعف نه دصحیح حدیث هم مخالف دے چه عائشهؓ نه ابو سلمه بن عبدالرحمٰن تپوس او کړوچه نبی ﷺ به په رمضان کښی څنگه مونځ کوونوعائشیؓ جواب ورکړوچه په رمضان اوغیررمضان کښی دیوولس(11) رکعتونه زیات مونځ نه دے کړے.

(15)﴿علامه بدرالدین عینی حنفیؒ﴾

علامه بدرالدین عینی حنفیؒ لیکلی دی: (فان قلت لم یبین فی الروایات المذکورة عددالصلوٰة التی صلاها رسول الله ﷺ فی تلک اللیالی قلت روی ابن خزیمة وابن حبان من حدیث جابرؓ قال صلی بنارسول الله ﷺ فی رمضان ثمان رکعات ثم اوتر) (فتح القدیر 177/7)

یعنی که تاسو داسوال اوکړی چه (دبخاری)په دغه مذکور روایاتو کښې درسول الله ﷺ (دتراویحو) دمونځ عدد اوشمار درکعاتو نه دے بیان شوے چه رسول الله ﷺ په دغه شپو کښې کړی وی نو دهغی جواب کښې زه وایم چه ابن خزیمهؒ اوابن حبانؒ په خپلو صحیحینو کښې حدیث دجابرؓ روایت کړے دے چه جابرؓ فرمائی: مونځ راکړو مونږته رسول الله ﷺ په رمضان کښې اته(8) رکعاته اوبیایی وتر اوکړه.

عینیؒ دشلو(20) رکعاتو حدیث ذکر کولو نه روسته ددغه حدیث په سند کلام کوی او وائی: ابوشیبة هوابراهیم بن عثمان العبسی الکوفی قاضی (واسط)جد ابی بکربن ابی شیبة کذبه شعبة وضعفه احمد وابن معین والبخاری والنسائی وغیرهم واوردله ابن عدی

هذالحدیث فی (الکامل)فی مناکیره . (عمدة
القاری203/9)(تحفة الاحوذی 615/3)
دشلور کعتو تراویحوپه سند کښی راوی ابوشیبه چه دے نودا
ابراهیم بن عثمان عبسی کوفی دے اوقاضی د واسط وو نیکه دے
دابوبکربن ابی شیبه.
شعبهؒ ورته دروغجن ویلی دی امام احمد ابن معین بخاری
اونسائیؒ وغیره محدثینو ورته ضعیف ویلی دی.
اوابن عدی داحدیث په الکامل کښی دده په منکر روایاتو کښی
راوړے دے.

(16)﴿علامه انورشاه کشمیری حنفی دیوبندی﴾

شیخ الحدیث دارلعلوم دیوبند،علامه انورشاه کشمیریؒ لیکلی:
ولامناص من تسلیم ان تراویحه علیه السلام کانت ثمانیة
رکعاتٍ(العرف الشذی 194/1)
اوخلاصے نشته د منلو د دی خبری نه چه تراویح د نبی ﷺ اته
رکعاته وی..

بعض احناف وائی: نبی علیه السلام نه چه احادیثو کښی رمضان

کښې اته رکعاته کول ذکر دی نو دا دنبی علیه السلام تهجد دی او تراویح نبی علیه السلام شل (20) رکعاته کړیدی ددی خبری جواب پخپله علامه انور شاه کشمیری حنفی دیوبندیؒ خپلو مذهبیانو ته ورکړیدے او وائی: ولم یثبت فی روایة من الروایات انه علیه السلام صلی التراویح والتهجد علیحدة فی رمضان :په هیڅ روایت کښې درو ایاتو نه داخبره ثابت نده چه نبی علیه السلام تراویح اوتهجد جُداجُدا کړی وی په رمضان کښې.

اوبیاپه شلو رکعتو تراویحو یی رد کړے دے.

دعلامه انورشاه کشمیری دیوبندیؒ نه د اته (8) رکعاتو تراویحو ثبوت

﴿اوشل(20) رکعاته رد کول﴾

علامه انورشاه کشمیریؒ وائی:فصح عنه ثمان رکعات واماعشرون فهوعنه علیه السلام بسندضعیف وعلی ضعفه اتفاق (العرف الشذی صفحه 309)

صحیح ثابت دنبی علیه السلام نه اته رکعاته دی اوهرچه شل رکعاته تراویح دی نودادنبی علیه السلام نه په ضعیف سند سره نقل دی اوپه ضعف یی اتفاق دے .

هم دارنگه خبره شیخ عبدالحق دهلوی حنفیؒ هم کړیده
فرمائی: تحقیق آنست که صلوٰة آنحضرت دررمضان همان نماز
معتاد بودیازده رکعات که دائم درتهجد می گزارد (مدارج النبوة
صفحه 400/1)

تحقیق داده چه دنبی علیه السلام مونځ په رمضان کښې هم هغه
مونځ وو چه عادتاً به یې یوولس(11) رکعته همیشه په
تهجدو کښې کول.

نومعلومه شوه چه تراویح اوتهجد یوشے دے نبی علیه السلام
تراویح جُدا اوتهجد جُدا نه دی کړی

اوشیخ عبدالحق دهلوی صاحب داهم لیکلی:
الصحیح ماوردته عائشةؓ أنه ﷺ صلی احدی عشرة رکعة کما
هوعادته فی قیام اللیل. (ماثبت بالسنة صفحه217)
صحیح خبره داده چه عائشیؓ کړیده چه نبی ﷺ یوولس(11)
رکعاته مونځ په رمضان کښې یعنی تراویح کړیدی
لکه څنګه‌چې دنبی علیه الصلوٰة و السلام عادت وو په قیام اللیل
(تهجدو) کښې نودغه وهم اوشک هم ختم شو چه څوک وائی
چه نبی علیه الصلوٰة والسلام رمضان کښې تراویح جدا کړیدی

چه شل(20) رکعاته دی اوتهجد ئی جدا کړیدی چه اته (8)
رکعاته دی.

(17)﴿علامه محمد بن علی النیمویؒ﴾

مشهورحنفی عالم نیمویؒ دسائب بن یزیدؓ ددی حدیث
(امرعمربن الخطاب ابی بن کعب وتمیماالداری ان یقوما للناس
باحدی عشرة رکعة)
امر کړے ووعمرؓ ابی بن کعب اوتمیم الداری رضی الله عنهما ته
چه خلکوله دی یوولس(11) رکعاته کوی
ددی حدیث دسند باره کښی لیکلی دی (اسناده صحیح)ددی
حدیث سند صحیح دی.(اثارالسنن صفحه 203)

(18)﴿بانی دارالعلوم دیوبندمحمد قاسم نانوتویؒ﴾

د دارالعلوم دیوبند بانی مولوی محمد قاسم صاحب لیکلی دی :
(یازده ازفعل سرور عالم ﷺ آ کداز بست)لطائف قاسمیه
مکتوب سوئم
یوولس(11)دعمل دنبی ﷺ نه مضبوط دی دشلو (20)نه.

یعنی یوولس(11)رکعاته تراویح مع الوتر دشلو(20)نه بنه ثابت دی.

(19)﴿مولوی رشید احمد گنگوهی حنفی دیوبندیؒ﴾

دیوبند په علماءُ کښی نامتوعالم مفتی رشید احمد گنگوهی وائی:
گیارہ رکعات تراویح مع وتر سرور عالم ﷺ سے ثابت ومؤکد ہے (الحق الصریح صفحه 22)

یوولس(11)رکعاته تراویح دوتروسره دنبی علیه الصلٰوة والسلام نه ثابت دی اومؤکد دی.

(20)﴿شاه ولی الله محدث دهلوی حنفیؒ﴾

محدث شاه ولی الله دهلوی حنفی عالم ویلی دی:
(ازفعل آنحضرت ﷺ یازده رکعت ثابت شده)(مصفیٰ شرح موطا فارسی مع مسوی 177/1)

درسول الله ﷺ دعمل نه یوولس (11)رکعاته ثابت دی.

(21) ﴿قاضی شمس الدین حنفی﴾

داحنافو نامتو عالم قاضی شمس الدین حنفیؒ لیکلی دی:

(میرا موقف یہ ہے کہ مجھے نہ آٹھ کی سنیت سے انکار ہے اور نہ عملاً اس کے ترک کو مستحسن سمجھتا ہوں اونہ ہی حتی المقدور ان کو ترک کرتا ہو اور نہ کسی کو ترک کرنے کی تلقین کرتا ہو اور نہ ہی میری جماعت حنفیہ کرام آٹھ کی سنتیت کے منکر و تارک ہے۔ بلکہ ہم تو کہتے ہیں کے اٹھ رکعات سُنت ہیں سُنت ہیں)

(القول الفصیح صفحه 5)

زما موقف دادے چه زما' نه داته رکعاتو تراویحو دسنتیت نه انکار دے او نه عملاً اته رکعاتو پریښودو ته ښه وایم او نه ترخپله وسه پورې اته رکعاته کول پریږدم او نه بل چاته داته رکعاتو پریخودو خبره کوم او نه زما جماعت احناف داته رکعاتو دسنتیت نه انکار کوی او نه اته رکعاته کول پریږدی بلکه مونږ ښو وایو چه اته رکعاته سُنت دی سُنت دی.

(22) ﴿دتبلیغی جماعت دفضائل اعمال مؤلف شیخ الحدیث محمدزکریاکاندهلوی حنفی﴾

شیخ الحدیث محمد زکریا کاندهلوی دتبلیغی جماعت دفضائل اعمال مؤلف لیکلی دی: یقناً دمحدثینو داصول مطابق دشلو

رکعاتو تراویحو تعداد دنبی ﷺ نه ثابت نه دے .(اوجز المسالک شرح مؤطا امام مالک 390/1)

دتبلیغی جماعت والابنود مولانازکریاصاحب خبره داسمانی وحی پشان منی نودادی هم اومنی اوهغه ثوک چه دنبی علیه السلام په سنت اته رکعاتوتراویحوعمل کوی نودهغوئ مخالفت دی نکوی اودشیخ زکریا صاحب دخبری مطابق چه شل رکعته دنبی علیه السلام نه ثابت نه دی نو په صحیح سنت دی عمل اوکړی چه کوم ثابت عمل دے په صحیح احادیثو چه اته رکعته تراویح دی اوچه کوم ثابت ندی هغه دی پریږدی .ځکه دنبی علیه السلام په سنت طریقه کښی ددوارو جهانو کامیابی ده اوپه غیر طریقو کښی ناکامیی ده.

(23)﴿دجماعت اسلامی سربراه سیدابوالاعلیٰ مودودیؒ﴾

حنفی صاحب تحقیق

سید ابوالاعلیٰ مودودی حنفیؒ لیکلی دی:

(تمام روایات کوجمع کرنے سے جوچیزحقیقت سے قریب ترمعلوم ہوتی ہے وہ یہ ہے کہ حضور ﷺ نے خودجماعت کے ساتھ رمضان میں جونمازپڑھائی وہ اول

وقت تھی نہ کہ آخر وقت میں اور وہ آٹھ رکعتیں تھی نہ کہ بیس اگر چہ ایک روایت بیس کی بھی ہے مگر وہ آٹھ والی روایت کہ بہ نسبت ضعیف ہے

(رسائل ومسائل 167/2)

هغه دادے نبی ﷺ پخپله جمعی سره رمضان کښې کوم مونځ کړے وو هغه په اول وخت کښې نه په آخر وخت کښې اوهغه اته رکعته وو نه شل رکعته اگرچه یو روایت دشلو رکعتو هم دے لیکن داته رکعتو دروایت په نسبت هغه ضعیف دے.

نو دسید ابو الاعلیٰ مودودی صاحب. دتحقیق مطابق هم داته رکعاتو تراویحو روایت مضبوط اوصحیح دے اودشلو رکعتو تراویحو روایت اوحدیث ضعیف دے اودا وائی چه نبی ﷺ په خپله دامامت اوجماعت سره رمضان کښې اته رکعته تراویح کړیدی.

(اخری عرض)

دا وو داحنافو اکابرعلماء کرام چه شل رکعاته تراویح ته سُنت نبوی نه وائ او اتهٔ رکعاته ته سُنت وائ نوهر کله چه شل رکعاته (تراویح) سُنت ثابت نه دی اوددی باوجود خلک دیته سُنت وائ اودا وائ چه نبی علیه الصلوٰة والسلام شل رکعاته کړیدی

نو ددی احنافو علماء په قول داخبره صحیح نده او چه هر کله صحیح نده نو بیا په نبی علیه الصلوٰة والسلام افتراء او دروغ دی او دصحیح حدیث مطابق په نبی علیه الصلوٰة والسلام دروغ وئیل دځان دپاره په جهنم کښې ځائے جوړول دی.

(من کذب علی متعمدا فلیتبوأ مقعده من النار... الحدیث)

نو پکاردی چه په صحیح ثابت سنت باندی عمل او کړے شی اوبی ثبوته عمل نه ځان بچ کړے شی.

(وماعلینا الا البلاغ)

وصلی الله تعالیٰ علیٰ نبینا محمد صلی الله علیه وعلی اله وسلم

(اخوکم ابوسهیل أفغانی)

تاریخ ۲۷ شعبان ۱۴۳۹ھ


فیصله
اکابر علماء احناف
شل 20 رکعاته تراویح سنت نه دی
اته 8 رکعاته تراویح سنت دی
مؤلف
ابو سهیل افغانی حفظه الله
ناشر مکتبه السنته